**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

عبدالرحمن فرقاني

نیټه 12/11/2009

# دافغانستان کابینه که د بهرنیو ونډه؟

افغانستان داسي یو هیواد دي چې له یوی اوږدي مودي څخه د بهرنیو د سیاسي کشمکش ډګر ګرځیدلي دي , که څه هم عام تصور دا دي چې په نړیواله کچه د دوپیژندل شویو بلاکونو ترمنځ د نظامي اخ او ډب سلسله ختمه شوي ده , په افغانستان باندي د ختیځ بلاك د یرغل پاي , او د هغه په پایله کی دي برلین د دیوال نړیدل او د لویدځي اوروپا د ګن شمیر هیوادونو د خپلواکي اعلان , د دي تصور مهم شواهد ګڼل کیږي , لدي ځاي د لویدځ هغو هیوادونو چې د ختیځ بلاك له لوي ګواښ سره مخ و, اودکمونزم کړه یی لمنه ته رسیدلي وه بي درنګه د سړی جګړی د پاي اعلان وکړ, خو په افغانستان کی هر سیاسي بدلون د دی نظامي اخ اوډب د شتون پخلي کوي , د نړي په کچه د روسیی او امریکا تر منځ چی هر سیاسي خوزښت کیږي د افغانستان په سیاسي وضعیت باندي اغیزمن وي , دیری سیاسي او نظامي جوړي د لویدیځ او په نامه نړیدلي ختیځ تر منځ د افغانستان په سیاسي سرنوشت پوري تړلي وي , په ظاهري ډول لویدیځ د ختیځ بلاك کړي چې د لویدیځی اوروپا لمنی ته رسیدلي وه ماته کړي ده , او هغو ختیځ اوروپایی هیوادونه ته یی چې د کمونزم په وحشت اوبربریت په تیاره کی یی له کړاواو بد بختي څخه ډك وخت تیر کړي و خپلواکي ورپه برخه کړله ده , خو په حقیقت کی د دی جګړی ډګرد ختیځی اوروپا څخه اسلامی نړی او په ځانګړي توګه افغانستان ته لیږدول شوي دي , هغه افغانستان چې د روسی په لمن کی پروت دي او لویدځ د ختیځ بلاك مشرتابه ( روسیه ) لدي ځاي وشړله او هیبت یی د افغانانو تر پښو لاندي شو .

کوم مهال چې د کمونزم خور شوي ګیلم د لویدځی اوروپا له لمنه څخه ټول شو , د ختیځ بلاك مشرتابه د اسلامي نړي لوري ته په داسي حال کی مخ راواړوه چې په سیاسي اداره باندي یی د جمهوریخواهانو ګوند د جورج بوش په مشري مسلط و , هغه ګوند چې له اسلامي نړي سره یی نظامي تګلاره غوره کړه , او په عسکري تصفیه باندي یی ټینګار کاوه , دا تګلاره لامل شوه چې امریکا د اسلامي نړی په ګوټ ګوټ کی د نظامي کړکیچ سره مخ شي , طبیعي وه چې دا راز نظامي خوزښت اویرغلونه دولسي پاڅونونه د پیدا کیدو لامل شي , چې امریکا یی تصور نه کاوه , په کومه کچه چی نظامي خوزښت په اسلامي نړی کی اوږدیده په هغه کچه د امریکا په اقتصادي سیستم کی ستونزي را منځ ته کیدلي , آن تر دی چې دا اقتصادي ستونزي د ټولنه د وګړو ټولنیز ژوند له ګواښ سره مخ کړ , دا ستونزي د امریکا د سیاسي اداری د بدلون لامل شوی , او دا ټولنیزي ستونزي د هغه اقتصادي بحران څخه وزیږدلي کوم چې دیری کار پوهان یی لامل د لویدځ نظامي خوزښت په اسلامي نړی کی ګڼي , او د امریکا سیاسي واك د جمهوریخواهانو څخه دیموکراتانو ته د اوباما په مشري منتقل شو , ټول هغه سیاسي چاپیریال چې امریکا په نړیواله کچه د خپلی سیاسي راکړی ورکړی لپاره جوړ کړي وه له ګواښ سره مخ شو .

تر کوم مهاله پوري چې د لویدځ بلاك د مشرتابه په اداره کی بدلون نه و رامنځ ته شوي , تر هغه مهاله پوري په روښانه ډول د ختیځ زخمي شوي بلاك خپل غبر د امریکا په وړاندي نه پورته کاوه , په کومه کچه چې د امریکا اقتصاد کمزوري کیده په هغه کچه د روسی اقتصاد وده کوله , خو روسی د نړیوالی پتي سړی جګړي ډګر پیژندلي وه او په افغانستان کی یی د لویدیځ راپرزول پلانول , د افغانستان په سیاسي چاپیریال کی یی هغه سیاسي ډلی په پښو ودرولي چې لویدځ یی له ستونزو سره مخ کړ , ځرنګه چې افغانستان د روسیه په لمن کی پروت دي نو افغانستان ته د لویدیځ اکمالاتي لاری هم دروسیه په واك کی دي پدي هکله روسی لویدځ ته لوي لوي خنډونه پیدا کړل , او د لویدیځ ځواکونه په افغانستان کی له کړاونو سره مخ شول , په هر ډول دا هغه مسایل دي چې فوځي مسولین پري پوهیږي , او دا چې لویدیځ تر کومه حده د افغانستان په ګرداب کی له ستونزو سره مخ دي دا په خپله د غربي لیکوالانو له لیکنو او تحلیلونواو د دوي د جګړی په ډګر کی د میشتو نظامي مشرتابه له ځرګندونو څخه په ډاګه کیدي شي , خو کومه خبره چې پخه ده هغه دا ده چې روسیی له لویدځ سره د جګړي د پری سر ندي پریږي , ځرنګه چې لویدیځ په خپله لمن کی روسیه ماته کړله دا راز روسیه غواړي چې خپلی لمنی ته نږدي په افغانستان کی د افغانانو په ذریعه لویدیځ مات کړي او خپور شوي هیبت یی په نړی کی د افغانانو تر پښو لاندي شي په کوم ځاي کی چې روسیه ماته شوي وه په هغه خاي کی روسه د لویدیځ د ماتي خوبونه ویني .

د افغانستان د ټاکنو په مهال مونږ ولیدل چې لویدیځ څومره له کړاو سره مخ شوي وه , د هغو ټاکنو پایله یی نشوي اعلانولي چې د دوي له دیموکرات سیستم سره سم افغان ولس تر سره کړي وي که په افغانستان کی د انتخاباتو


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

پايلی نړيواله ټولنه اوافغاني سياسي قوتونه له کړکيچ سره مخ کړي و نو د افغانستان کابينه به ضرورهغه ستونزي يو ځل بيا راژوندي کړي چی دافغانستان سياسي استقرار او ثبات تهديدوي .

د ټولټاکني په مهال د افغانستان بي وزله ملت د هغو هيوادونو لاسوهنه په ښکاره ډول ليدله , دديموکراسي د سيستم د پلي کونکی هيوادونو له لوري د افغانستان د سرنوشت د ټاکلو اړوند لاسوهنه کيدله , هغه پايله چی د ديموکراسي د پروسی سره سمه افغان اولس ټاکلی وه د کافي مودي لپاره وځنډول شوه سره لدي چی دا ټګلاره د ديموکراسي له اصول څخه سرغړونه هم وه , خوتر کومه چی د دوي سياسي لاسته راوړني د افغانستان په سياسي چاپيريال کی نه وي منل شوي دا پايله د ټاکنو خپلواك کميسيون نشوي اعلانولي , که د افغانستان د ټاکنو پايله دومره کړکيچنه وه نو د افغانستان د کابينی ټاکل به دير ستونزمن کار وي او تر کومه چی په افغانستان کی د دخيلوهيوادونو ونډه په کابينه کی ونه منل شي دا کابينه به وجود ته لاره پيدا نکړي , دا خو څرګنده ده چی امريکا د نانو هيوادونه هم د افغانستان د جګړی ډګر ته راوستي دي او دا هيوادونه په وړيا توګه د امريکا ياري ته د افغانستان کی ندي حاضر شوي بلکه خپله ونډه د افغانستان په سياسي سرنوشت کی غواړي , که يولوري ته د لوديځ هيوادونو ځانګړي سياسي ډلی دي چی خپله ونډه په راتلونکی کابينه کی غواړي , بل لوري ته هغه سياسي ډلی او شخصيتونه دي چی د اوسنی اداری سره يی ټړونونه کړي او اوسنی اداره به د دوي غوښتنو ته متعهده وي چی ديري د دی شخصيتونو د اوباما د اداری د ستراتيژی پلي کيدو ته خنډ کيږي , بل لوري ته هغه قوتونه اوسياسي ډلي دي چی د ختيځ بلاك پلان يی په افغانستان کی په مخ روان کړي دي , او هغه د مقاومت ډلي هم خورا د اهميت وړ دي چی د لوديځ ځواکونه ورسره لاس ګريوان دي , که لوديځ او اوسني سياسي اداره وغواړي له دوي سره د خبرو له لاری د کړکيچ د اواريدو اړوند حرکت وکړي , نو د دوي ونډه به هم په راتلونکی کابينه کی ديره درنه او ځاي به ورته په مشکل پيدا شي .

او که دا اداره د ملت د رايو په پايله کی را منځ ته شوي وي نو آيا ملت به هم کومه ونډه پدي کابينه کی ولري ؟



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ